# العلق

**مکی سورة دی ١٩ آیتونه لری**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ ١

**( ای محمده!) ولوله( قرآن) د خپل رب په نامه چې د هر شی خالق دی.**

خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِنۡ عَلَقٍ ٢

**هغه ذات چې انسان يې د وينې له يوې ټوټې راپيدا کړ(او بيا يې ورته عقل او پوهه او بې ساری استعدادونه ورکړل).**

ٱقۡرَأۡ وَرَبُّكَ ٱلۡأَكۡرَمُ ٣

**ولوله او ستا رب ډير زيات مهربان او د فضل او مرحمت څښتن دی.**

ٱلَّذِي عَلَّمَ بِٱلۡقَلَمِ ٤

**هغه ذات چې د قلم په وسيله يې علم ښودلی دی.**

عَلَّمَ ٱلۡإِنسَٰنَ مَا لَمۡ يَعۡلَمۡ ٥

**او انسان ته يې هغه څه ورزده کړل چې پرې هيڅ نه پوهيده.**

كَلَّآ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَيَطۡغَىٰٓ ٦

**خو يقيناً چې انسان بيا هم سرکشی کوی.**

أَن رَّءَاهُ ٱسۡتَغۡنَىٰٓ ٧

**او خپل ځان بې پروا ګڼی.**

إِنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ ٱلرُّجۡعَىٰٓ ٨

**بې له شکه به بالاخره د خپل رب حضور ته راستنيږی.**

أَرَءَيۡتَ ٱلَّذِي يَنۡهَىٰ ٩

**آيا ګورې(او آيا د مجازات وړ نه دی ابوجهل) چې منع کوی.**

عَبۡدًا إِذَا صَلَّىٰٓ ﴿١٠﴾

**زما بنده( محمد صلی الله علیه و سلم ) له لمانځه څخه.**

أَرَءَيۡتَ إِن كَانَ عَلَى ٱلۡهُدَىٰٓ ﴿١١﴾

**وګوره که دغه( باغی او طاغی ابوجهل) په سمه لار روان وی.**

أَوۡ أَمَرَ بِٱلتَّقۡوَىٰٓ ﴿١٢﴾

**او خلکو ته یې د پرهیزګارۍ بلنه ورکولی( نو ډیره به ښه وی او د الله تعالی په حضور کې به یې ارزښت او مقام ډیر لوړ وی).**

أَرَءَيۡتَ إِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰٓ ﴿١٣﴾

**وګوره( که دغه ابوجهل حق دین) دروا‌غ ګڼی او له( الهی فرمان نه) مخ اړوی( نو آیا د سخت مجازات وړ نه دی)؟**

أَلَمۡ يَعۡلَم بِأَنَّ ٱللَّهَ يَرَىٰ ﴿١٤﴾

**آیا دی نه پوهیږی چې الله تعالی یې ټولې کړنې وینی.**

كَلَّا لَئِن لَّمۡ يَنتَهِ لَنَسۡفَعَۢا بِٱلنَّاصِيَةِ ﴿١٥﴾

**نه-(داسې نه ده چې دی فکر کوی) که دی له خپلو (ناوړو اعمالو) لاس وانخلی، د سر له ویښتو به یې ونیسو( او په شدت سره به یې دوزخ ته راکاږو).**

نَاصِيَةٖ كَٰذِبَةٍ خَاطِئَةٖ ﴿١٦﴾

**هو- د فاسد دروغجن سر له ویښتو.**

فَلۡيَدۡعُ نَادِيَهُۥ ﴿١٧﴾

**بیا دې خپل ملاتړی راوغواړی.**

سَنَدۡعُ ٱلزَّبَانِيَةَ ﴿١٨﴾

**مونږ به هم د خپل عذاب پرښتې راوغواړو.**

كَلَّا لَا تُطِعۡهُ وَٱسۡجُدۡ وَٱقۡتَرِب ۩ ﴿١٩﴾

**نه- هیڅکله د هغه اطاعت مه کوه. بلکه خپل رب ته په سجده( لمانځه) سره تقرب پیدا کړه.** «تمت سورة العلق بفضل الله و رحمته»